## مطبوعاتي اعلاميه

## د ظلم او وېرې پالیسي به هېڅکله د حزب التحریر شباب له خپلې لارې راونه ګرځوي

امنیتي ځواکونو د جون په ٦مه له غرمې وروسته، د حزب التحریر۔ ولایه تونس د مرکزي اړیکو د کمېټې غړی طارق رفیع ګابس امنیتې حوزې ته یوړ، بیا یې پرکور برید وکړ او وروسته یې تلاشي کړ. ده د جون په ۵مه د جمعې له لمانځه وروسته د سیدي ابي لبابه جومات مخ ته په خپله وینا کې د چارواکو ظلم غندلی و، چې جوماتونه یې تړلي وو او په همدې کار سره یې هغه د چارواکو د ظم په بیانولو سره تورن کړ. چارواکو د ټاکل شوي ګرځبندیز د پروسې له لیرې کولو سربېره ګواښ کړی دی چې هغه جوماتونه به بیا هم تړل کېږي، چې ان یو کس هم پکې پر کرونا ناروغۍ اخته وبلل شي.

د حزب التحریر د اړیکو د کمېټې د غړي ځواب په لومړي تحقیق کې دا و، چې حزب التحریر د طاغوت ستاینه نه کوي، چې د الله سبحانه و تعالی له حکم پرته د قانون پر پلي کېدو ټینګار کوي. د تونسي چارواکو له لوري په لمانځه کې ناحقه اقدام کول لکه د عبادت کوونکو تر منځ واټن، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې وینا سره ښکاره مخالفت دی:

**«أَقِيمُوا الصُّفُوفَ وَحَاذُوا بَيْنَ الْمَنَاكِبِ وَسُدُّوا الْخَلَلَ...»**

***ژباړه:*** *صفونه برابر کړئ، اوږه په اوږه ودرېږئ، خالیګاوې ډکې کړئ...*

نو دا زموږ مسوولیت دی چې د دوی دا او نور له ذلت څخه ډک اعمال رد کړو او هغه څه دوی ته تشریح کړو، چې الله سبحانه و تعالی پرې امر کړی دی، په ځانګړي ډول د ناورغۍ د خپرېدو د مخنیوي په موخه باید هغه کس چې ناروغي ولري اجازه ورنه کړل شي چې جومات ته لاړ شي، مګر داسې نه دي ویل شوي چې د واټن په مراعت کولو سره باید پر ناروغۍ اخته کس ته د ننوتلو اجازه ورکړل شي.

طارق رفیع، د محکمې له هغه لیکل شوي متن وروسته خوشی شو چې لاسلیک پرې نه و شوی او د پرېکړې لپاره به د دوشنبې په سهار د عامه څارنوالۍ دفتر ته حاضر شي. موږ حزب التحریر۔ ولایه تونس له هغه ژمنې سره چې له الله سبحانه و تعالی سره مو کړې ده، هېڅکله به له سیاسي فعالیتونو څخه لاس په سر نه شو، چې

تاسو يې پر وړاندې خنډونه جوړوئ، شباب يې نيسئ، پر کورونو يې بريدونه کوئ او کورنۍ يې په وېره کې اچوئ. د ظلم او وېرې پاليسي به هېڅکله د حزب التحرير شباب له خپلې لارې څخه راونه ګرځوي. موږ همدا راز په امنيتي ځواکونو کې پر خپلو ورونو غږ کوو چې د ظالمو واکمنانو د امر تابع نه شئ او د الله سبحانه و تعالی له ژمنې او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د زيري پر وړاندې، چې د نبوت پر منهج د راشده خلافت تاسيس دی، خنډونه مه جوړوئ.

**د حزب التحرير- ولايه تونس مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱هـ.ق د شوال ۱٦مه**

**۲۰۲۰م د جون ۷مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۱/۴۰**